شاه محمود مستمند تاریخ ١٤/٠٧/٢٠٠٩

# دافغان په وينو د پنجاب تجارت

د سردار داود خان له طلايي کودتا وروروسته د افغان په وينو د شرق او غرب سوداګري شروع شوه او د ثور د اومي نيتي قيام دا تجارت لا نور هم زيات کړ ،او د ببرک کارمل په ناولي او لعنتي شوق سره چه غوښتل يي له نامشروع لياري پر تاج او تخت باندي بايد قبضه وکي او ددي ارمان د سرته رسولو لپاره يي له هيڅ ډول ناجايزه عمل څخه دريغ ونه کړ تر څو چه د لعنتی شوروي سوپر پاور سره دي موافقي ته ورسيده چه بايد زموږ ګران وطن د اشغال په ذريعه د ببرک کارمل د قدرت ته د رسيدولعنتي ارمان د ترسره کيدو سره د شوروي دا ناولي ارمان هم ترسره شي چه که احياناً و کولاي شي چه ګرمو اوبو ته ځان ورسوي، نو د افغان ولس پر وينو تجارت خپل اوج ته ورسيده .

کارمل د قدرت ته د رسيدو لپاره د ميرغضب امين له بيرحمه رژيم څخه د خلاصون تر بهاني لاندي د شوروي د سرو لښکرو پر ټانکونو هيواد اشغال او دتاج او تخت ته د غصب کولو ناولي ارمان او ستراتيژيک هدف يي تر سره کړ .

ددي اشغال سره سمدلاسه هغه د قدرت ليونيان چه لاپخوايي د سردار داود خان پر ضد د پنجابي دښمن په ناولي ځاله کي کمين نيولي وه، دقدرت ته درسيدو لپاره يي د افغان مظلوم اولس د مقدس جهاد تر عنوان لاندي داسي په وينو لت پت کړ چه په تاريخ کي ساري نه لري، ليکن د شوروي اشغالګرو قواوو له ماتي وروسته چه د افغان ولس د بيباکه مقابلي او با غيرته سرشندني نتيجه وه او دملي قيام په نتيجه کي مات شول ليکن د اشغالګرو له وتلو او د ملی روغی جوړي د پلان سره سره جګړه نوره هم لا ګرمه شوه او د ملي روغي جوړي پلان ته د قدرت عاشقانو هم د نابودي ملا وتړله.

همدا تورو جهادي تنظيمونه د ملی روغی جوړي په درشل کي له هغه ناولي پرچمي ګوډاګيانو سره په يوه ډيره نامقدس ايتلاف کي د جهادي اسلامي شوري (شمال ايتلاف) په نامه سره يو ځاي شول او د ملي روغي جوړي هغـــــــه اسلامي،انساني او د دردونو او رنځونو څخه د خلاصون پر پلان يي د مسکو - تهران تر لعنتي قوماندي لاندي کودتا وکړه چه نه تنها د جګړي د ختميدو او د ملي روغي جوړي انساني پلان يي له منځه يووړ بلکه ورسره يوځاي يي هغه ملي حاکميت چه د افغان ولس د پيړيو پيړيو دوينو ثمره وه له منځه يووړ او هم يي هغه ملي او دښمن ماتوونکي اردو هم بيرحمه او ناولي دښمن ته ور تسليم کړه چه لدي پياوړی وطندوستي اردو څخه چه د پنجاب کرکه کيده هغه يی هم داسي ورانه کړه چه هيواد مو د ملي اردو د نشته والي په وجه د پنچاب مستعمره شوه .

له همدي کودتا څخه وروسته د شمال لعنتي ډلي ټپلي د يوي بلي داسي جګړي لپاره لياره هواره کړه چه د ختميدو لپاره يي اوس له ټول جهان څخه لياره ورکه ده،خو د وطن د ننګ او ناموس د دښمنانو غوا داسي لنګه شوه چه وچيده يي نشته او پي تر پي وي، يوه جګړه تر بلي لا خونړي او بيرحمه وي.

پدي ديرش کلنه بيرحمه او ناولي جګړه کي تر ټولو زيات د وطن د عزت ،ننګ او ناموس د ډير بيرحمه دښمن يعني پنجاب ښه پخه چاره وکړه ،د افغان په وينو او د جهاد د مقدسی کليمی په تجارت سره هم د" اسلامي" اټومي سلاح خاوند شوه او هم يي له تحميلي او غير طبعي د ډيورند له کرښی هغه خوا په داسي عملياتو لاس پوري کړي لکه د پلار او نيکه خاوره چه وي او ميراث ور پاته وی .

داسی فکر کيږي لکه چه جهادي تجاراتو ورته ددی ناولي او تحميلی کرښی د منولو کاږه سرونو چه عقل ، ايمان او وجدان پکي نشته، شوروليي وي دا ځکه چه ددی اوسنی ناولی جګړی لپاره لا له پخوا څخه منظم کار او فعاليت شوی دی او دا مطلب هم لا ډير پخوا لکه چه د ناټو له اشغال څخه د مخه په لاس پوڅو رهبرانو باندی د قدرت ته درسيدو لپاره تپل شوی او منل شوی وی .

ځکه پدي جګړه کي د افغان ولس پر هغه برخه خاوره چه د پنجاب تر اشغال لاندي ده او ولس د پنجاب له ظلم او ستم سره د هغو طالبانو په وجود کي چه پنجاب روزلي دی د ارامی ژوند نلری، او د طالب په عوض هم دا ولس د تروريست په نامه وژل کيږي او هم بي کوره کيږي ، هغه متل دی چه ، هم بوري او هم بدنام ، د هغوي وژل ورته داسي ستر افتخار شو لکه پرون چه ورته د بري خوا د افغان ولس وژل ورته هم افتخار او هم ګټه.

نن د ناولی ډيورند هغی خواته د افغان ولس وژل هم خرما ده او هم ثواب ، او افغان تجارتي رهبران هم پدی خوښ دی چه هم هلته او هم دلته د القاعده او طالب په نام افغان وځپل شی،ترڅو د دوی تاج او تخت د افغان وژنی د وينی په بيه تل تر تله ثابت او سالم پاته شی.

نن هم د افغان مظلوم ولس پر وينو داسي دشرق او غرب ، د پنجابي او ايراني دښمن پخه سوداګري دوام لري چه په تاريخ کي ساري نلري .د ناولي تحميلي کرښي دواړو خواوو ته د افغان ولس وژل نه تنها ستر افتخار دي بلکه ستره



افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئوليت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نويسنده ميباشد، خواهشمنديم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بداريد.

نه ختمیدونکي پانګه هم ده . هلته په اشغالي خاوره کي لدي ستر افتخار څخه پنجابي بيرحمه دښمن خوندونه اخلي او دلته د ملي روغي جوړي تاريخي دښمنان ، جهادي غله او د ننګ او ناموس تاجران خوندونه اخلي او هم د مظلوم افغان په وينو د ملياردونو ډالرو پانګي خاوندان شول ، دا د وطن د روغي جوړي تاريخي دښمنان په قدرت کي د پاته کيدو لپاره د پرون په شان هرډول تجارت ته تيار دي او له هيڅ ډول معاملي څخه د قدرت ته د رسيدو لپار دريغ نه کوي.

د پرون جنګي جنايتکاران د ولس مشر کيدو خواږه خوبونه ويني او ولس د هري ورځي په تيريدو د درنو رنځونو خواته په ډيره چټکي سره مخته ځی او د اشغالګرو له ټولو درواغجنو کمکو څخه مظلوم ولس ته يوازی دردونه ،رنځونه او بدبختی ور په برخه کيږي او بس.

افغان غيرتي ولســـــه د خپل تاريخي او غيرتي پلرونو پشان د وطن له ټولو دښمنانو سره د مقدسي مقابلي او مبارزي ډګر ته ځانونه چمتو کړي او لدي لعنتي دښمنانو سره د پرون په شان په ميړانه او سربښدنه باندي مقابله وکړي.

د وطن د ننګ او ناموس له ټولو دښمنانو سره که داخلي جهادي غله دي او که پرچمي تاجران او تسليميان ، که خلقي تينتيدلي وزيران دی او که د جمعيت تينــــــــــتيدلي قهرمانان ،که طالبي مزدوران او يا که خارجي نجاتګران او يا د هغوی پنجابي ياران داسی مقابلي ته ځان تيار کړي لکه ستاسی غيرتی پلرونو او نيکونو چه په ميړانه او غيرت سره له انګريزي اشغالګر څخه نيولي تر شوروي اشغالګرو او د هغو له ناولو ګوډاګيانو سره په ميړانه وجنګيدل ،سرونه يی قربان کړل او وطن يی ازاد کړ.

ګرانو وطنوالو د ډيورند د لعنتی کرښی هغه خواته ددښمن د عملياتو سره موافقه پر ننګ او ناموس د تجارت معني لری نه د تروريزم سره د مقابلي مفهوم.

د پنجاب د اشغالګر پوځ ځای په ځای کيدل په هغو سيمو کي چه هلته د قانون له مخی پنجابی پوځ حق نلري ،او دهغوی عمليات د خود اراديت د موافقي څخه سرپيچی ده . او دا تر استعمار لاندي ولس مقابله د پنجابی پوځ په مقابل کی په حقيقت کی له خپلی خاوري او ناموس څخه د دفاع معني لري او تر خاوره او ناموس سر قربانول د ازادي د سربازانو کاردی نه د تروريستانو او پنجابی طالبانو کار.

داچه د افغان ولس رهبري دلته د سياسی تجارانو او جهادي غلو په لاس کي ده او هلته د ولس رهبري دپنجاب د تربيه شوو جاسوسانو په منګلو کي ده ، دا د افغان د لر اوبر ولس درنه او ستره بد بختي ده ديرش کلنی جګړي زموږ د تورو او وياړنو هيواد دومره خوار او زار کړ چه اوس د سپو له خواري ګيدړی پر بامو ګرزي، داد ولس د بدبختي معني لري .

افغان لر او بـــــراولس دومره له ملی رهبري څخه بي برخي ده چه اوس د ملی شخصيتونو پر ځاي جنګي جنايتکاران ، او ډارن فراريان د ميرني او وطن ساتونونکي قهرمان په بدلو او رنګينو جامو کي له ځانه ملی جعلی شخصيتونه جوړکړي او د وطن د رهبري د ترلاسه کولو شپی ورځي حساب کوي .

هلته په لری پښتونخوا کي له بعضی سياسی ګوندونو څخه نيولي تر طالبي ډلو ټپلو پوری ټول د پنجابي په نوکري کی له ژوند څخه خوند اخلي او تر اوسه لا داسی ميرني لکه غازي ايوب خان او يا وزير محمد اکبر خان چه له اشغالګر سره پنجه نرمه کړی او يا د ازادي د ګټلو ستر ملی افتخار لکه غازي امان الله خان چه د وطن د ازادي درنه او مسته چـيغه پورته کړي او له پنجابي ګيدړ سره د درنی مقابلي لپاره د الله اکبـــــــــــــر په تکبير سره د ازادي ستره له هيته ډک اواز راپورته کړي او خپله توره له زنګ وهلي تيکي را وباسی او د استقلال د مقدسی جګړي اعلان په مست افغاني شهامت او ميړانه سره جهان ته ورسوی ،لا سر نده را پورته کړي او مظلوم ولس ديوه ملی رهبر په ارمان د پنجابي بي رحم دښمن تر ټانکونو لاندي د ځنګدن سلګي د ډيری ستری نا اميدي په حال کی وهي او په سرو وينو کي مرګ افتخار بولي نه د پنجابي په اسارت او تر استعمار لاندی ژوند.

داسوال پيداکيږي چه دا دترور پر ضد جګړه د ختميـــدو په حال کی ده اوکه د شروع په درشل کي؟

دا مات شوي طالب له کومی خوا چا او څنګه دی درجي ته راورساوه چه اوس هم په لر او هم په بر افغان خاوره کي د برې لپاره لستوني را نغاړي هغه هم د پنجابي په اشاره؟

دلته طالب د ازادي او استقلال نمونه ده او هلته په لری اشغالی خاوره کي د ترور او بدبختي نمونه؟

يو لنډ غـــــــــر طالب او دوه متضادي څيري ؟ يوه څيره چه د پنجاب تر رهبري لاندی ده هغه د ازادي فرشته لکه پرون ؟! او بل طالب چه هغه د ډيورند هغي خواته جنګيږی هغه يی بيا تروريستي او لعنتي څيره ده؟

ايا ددی عملياتو تر شاه د وطن فروشي او په ننګ او ناموس د معاملی ډرامه نده پټه؟

ځکه چه پنجابي مليونی اردو پخوا له خپل ټول توان او طاقت سره سره ددي غيرت او شهامت نه درلود چه د افغان اشغالی خاوری ته مرداری سترګي په بد نظر ور واړوي. داچه اوس هلته په ازاد لاس له هغو تروريستانو سره په جګړه کي اخته دي چه پرون دوي په خپل لاس جوړ او را ميدان ته کړل ترڅو د خپل تصرف لپاره قانونی لياره جوړه کړي ،بله کوم دليل نشی پيداکيدای..



افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئوليت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نويسنده ميباشد، خواهشمنديم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بداريد.

ایا جهادی غله ، غربی تاجران ، پرچمی تسلیمیان او خلقي فراریان چه د وطنپرستی پاکی او سپینی جامی یی په تن کړي دی څنګه بی تفاوته دی؟
او ولي پټه خوله دي؟
هغه ټول شعارونه چه دخلکو ماغزه یی خوړل او اوس یی بیا له سره په زړو بي ماهیته اوازونو شروع کړي پدی ټولو کی دومره نــــر نشته چه هم دلته او هم هلته د افغان وژني د ناولی جګـــــړی د درولو دغیرته ډک غـــبر پورته کړي او دی ناولي تروریستی ډرامي ته هم په لری او هم په بـــری افغان خاوره کي خاتمه ورکړي؟
ایا داسی نه معلو میږی چه جهادي داړه ماران او امریکایی تاجران یو ځل بیا په قدرت کی د پاته کیدو لپاره پر ننګ او ناموس د تجارت لپاره ملا وتړي؟
لکه څنګه چه پنجابي اردو یو جنرال په ډیره سپین سترګي سره څرګنده کړه چه پنجاب کولای شي له ناټو سره د ملا عمر – حکمتیار دجګړي د ختم لپاره کار وکړي که چیری ناټو له پنجاب سره د کشمیر په موضوع کي کمک وکړي .
داسی معلو میږی چه پنجاب اوس نه تنها د ډیو رند چاره کوي (شاید چه لا د وخته یی چاره کړي وي) بلکه د افغان د وینو پر ستر توفان باندي له هند سره هم د کشمیر د موضع د حل لپاره وسیع پلانونه او ارمانونه لري چه دا ټول باید د افغان د وینو پر تویولو تر سره شي.
پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.